## ضمیمه

## د نړیوال بشري قانون د دودیزو اصولو لست

دغه لست د دودیز نړیوال بشري قانون د څیړنې د لومړي ټوک د پایلو پر بنسټ جوړ شوی دی. څرنګه چې دغې څیړنې د نړیوال بشري قانون د هر اصل د دودیزې ځانګړتیا د څرګندولو لپاره زیار ندی ایستلی ، نوپه هغه توګه چې لازمه ده د موجودو تړونونو جوړښت نه ځاري. د دغو اصولو د کارولوځای په لیندکیو کې ښودل شوی دی. د (ن.و.ج) لنډیزپه نړیواله وسله واله جګړه کې د پلي کیدونکو دودیزواصولو او د (ن.ن.و.ج) لنډیزپه نا نړیواله وسله واله جګړه کې د پلي کیدونکو دودیزواصولو پورې اړه لري. په وروستي حالت کې ځینې داسې اصول ښودل شوی دی چې په (نانډره ایزه توګه) د پلی کیدو وړدي ځکه چې په عامه توګه یې کاروني هغه لوري ته نغوته کوله خولبرځه پراخه بڼه یې درلوده.

## د توپیراصل

## د ملکی خلکواو جګړه مارو ترمنځ توپیر

**۱اصل**. د جګړې خواوې باید تل د جګړه مارو اوملکي خلکو تر منځ توپیر وکړي. یرغل باید یوازې د جګړه ماروپه وړاندې تر سره شی نه د ملکي خلکو. (ن/.ن.و.ج)

**۲ اصل**. د تیری هغه کړنې یا ویرونې چې د هغوی لومړنی موخه د خلکو په منځ کې د ویرې خپرول وي منع دي. (ن/.ن.و.ج)

**۳ اصل**. دجګړې د یوې خوا د وسله والو ځواکونو ټول غړي پرته له روغتیایي او مذهبي کارکوونکو جګړه ماران دي. (ن.و.ج)

**۴ اصل**. دجګړې د یوې خوا وسله وال ځواکونه د ټولو هغو رغول شویو ځواکونو، ډلو او جزوتامونو څخه جوړیږی چې د یوې داسې قوماندې لاندې وي چې هغې خوا ته د خپلو ترلاس لاندې غړو د اداره کولو لپاره ګرم وي. (ن.و.ج)

**۵ اصل**. ملکي خلک هغه کسان دی چې د وسله والو ځواکونو غړي نه وي. ملکي خلک هغه کسان دي چې بې وسلې وي. (ن/.ن.و.ج)

**۶- اصل**. د یرغل په وړاندې د ملکي خلکوڅخه تر هغه پورې ساتنه کیږي چې هغوی په جګړه کې نیغه برخه وانخلي. (ن/.ن.و.ج)

## د ملکي او جګړه ایزو موخو تر منځ توپیر

**۷ اصل**. د جګړې خواوې باید تل د ملکي او جګړه ایزو موخو تر منځ توپیروکړي. یرغل باید یوازې د جګړه ایزو موخو په وړاندې تر سره شي نه د ملکي (ن/.ن.و.ج)

**۸ اصل**. تر هغه بریده چې په موخو پورې اړه لري، جګړه ایزې موخې په هغو موخو پورې تړلې دي چې د واکمنی په شرایطو کې د هغوی ځانګړتیا، ځای، مقصد یا کارونه د جګړه ایزوعملیاتوسره اغیزمنه مرسته کوي اود هغوی د ویجاړیدو، نیولو یا خنثی کولو یوځه یا بشپړه تاکلې پوځی ګټه وړاندې کوی (ن/.ن.و.ج)

**۹ اصل**.ملکي موخې ټول هغه اهداف دی چې د جګړې موخې نه وي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۰ اصل.** د ملکي موخو څخه د يرغل په وړاندې تر هغه وخته او د دې لپاره ساتنه کيږي چې جګړه ايزې موخې نه وي. (ن/.ن.و.ج)

## نا څرګند يرغلونه

**۱۱ اصل.** نا څرګند يرغلونه منع دي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۲ اصل.** نا څرګند يرغلونه هغه دي چې:

الف- يوې ځانګړې پوځي موخې ته يې لاربنوونه نه کيږي.

ب- د جګړې د يوې داسې وسيلې او ميتود څخه کار اخلي چې نشي کولای يوې څرګندې پوځي موخې ته يې لاربنوونه و شي يا د جګړې د يوه داسې ميتود يا وسيلې څخه کار اخلي چې اغيزې يې نشي کيدای د بشر دوستۍ د قانون دغوښتنوسره سمې محدودې شي.

او په پايله کې، په هر يوه دغه حالت کې يوه داسې ځانګړتيا شته چې د پوځي موخو ، ملکي کسانو، او ملکي موخو سره پرته له توپيره چلند کوي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۳ اصل.** بمي يرغلونه په هر ميتود او وسيله چې په يوه ښار، ښارګوټي، کلي اويا د ملکي کسانو او ملکي موخويا د غونډيدوپه بله ورته سيمه کې د يو شمير ښکاره بيلو شويو او ځانګړو پوځي موخو سره د يوې ځانګړې پوځي موخې په توګه عمل وکړي منع دي. (ن/.ن.و.ج)

## په يرغل کې انډول

**۱۴ اصل.** پداسې يوه يرغل لاس پورې کول چې تمه کيږي د ملکي خلکود ژوندانه ناڅاپي ويجاړی، ټپي کيدنه اود ملکي موخو يا هغوی ته اړوند يو ترکيب به د دې لامل وګرځي چې د له مخکې نه مخکې څرګندې شوې رښتينې اونيغې پوځي ګټې څخه تيرى وکړي منع دی. (ن/.ن.و.ج)

## په يرغل کې مخکنی اقدامات

**۱۵اصل.** د پوځي عملياتو په وخت کې بايد ټينګه پاملرنه وشي چې ملکي خلک اوملکي موخې يوه څنګ ته پاتې شي. ټول شوني مخکني اقدامات بايد تر سره شي چې د ملکي خلکود ژوندانه ناڅاپي ويجاړی، ټپی کيدنه او ملکي موخو د زيان څخه مخنيوی او په هرحال کې کمښت رامنځته شي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۶ اصل.** د جګړې هره خوا بايد هر هغه شونی اقدام تر سره کړي چې دا باوري کړي چې مقصد يې پوځي موخې دي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۷ اصل.** دجګړې هره خوا بايد د جګړې د وسايلو او ميتودونو په ټاکنه کې د ملکي خلکود ژوندانه د ناڅاپي ويجاړي، ټپي کيدو اود ملکي موخود زيان څخه د مخنيوی او په هرحال کې کمښت د مفکورې سره شوني مخکني اقدامات تر سره کړي (ن/.ن.و.ج)

**۱۸ اصل.** دجګړې هره خوا بايد هر هغه شونی اقدام تر سره کړي تر څودا وارزوي چې آيا د يرغل څخه بايد دا تمه وشي چې د ملکی خلکود ژوندانه ناڅاپي ويجاړی، ټپی کيدنه اود ملکي موخو زيان ، يا هغوی ته اړوند ترکيب به د دې لامل وګرځي چې د مخکې نه مخکې څرګندې شوې رښتينې اونيغې پوځي ګټې څخه تيری وکړي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۹ اصل.** دجګړې هره خوا بايد هر هغه شونی اقدام تر سره کړي تر څوپه هغه صورت کې چې دا څرګنده شي چې د يرغل موخه پوځي نه ده او يا داچې د ملکي خلکود ژوندانه

ناخاپي ويجاړی، ټپي کيدنه اود ملکي موخو زيان  يا هغوی ته اړوند ترکيب ددې لامل ګرځي چې د مخکې نه مخکې څرګندې شوې ربښتينې اونيغې پوځي ګټې څخه زياتی کوي يرغل وځنډوي او يا يې له منځه يوسي. (ن/.ن.و.ج)

**۲۰ اصل**. دجګړې هره خوا بايد د هغو يرغلونوپه هکله چې ښايي پر ملکي خلکوباندې اغيزه وښيندي اغيزمنه مخکني خبرتيا ورکړي مګر دا چې شرايط اجازه ورنکړي. (ن/.ن.و.ج)

**۲۱ اصل**. کله چې  د څو پوځي موخو تر منځ د ورته پوځي ګټو د لاس ته راوړلو لپاره ټاکنه شوني وي هغه موخه بايد وټاکل شي چې د ملکي خلکو د ژوندانه اود ملکي موخو زيان پکي لږ وي. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

## د يرغلونو د اغيزو په وړاندې مخکني اقدامات

**۲۲ اصل**. دجګړې  خواوې بايد هر هغه شوني مخکني اقدامات تر سره کړي تر څو خپل تر ولکه لاندې ملکي خلک اوملکي موخې د يرغلونو د اغيزو په وړاندې وساتي. (ن/.ن.و.ج)

**۲۳ اصل**. دجګړې هره خوا بايدتر شوني بريده پورې د خلکو د ګڼې ګونې يا هغه ته نږدې سيمو کې د پوځي موخود ځای پرځای کولوڅخه مخنيوی وکړي. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

**۲۴ اصل**. دجګړې هره خوا بايدتر شوني بريده پورې د ملکي خلکو او ملکي موخو شتوالی د پوځي موخو د نږديکت څخه ليرې وساتي. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

## په ځانګړې توګه ساتل شوی کسان او موخی
## روغتيايی اومذهبی کارکوونکی او موخی

**۲۵ اصل**. د هغو روغتيايي کارکوونکو څخه چې يوازې او يوازې روغتيايي دندو ته ګمارل  شوي دي  بايد په هرحال کي درناوی اوساتنه وشي. په هغه صورت کي به دوی خپله ساتنه د لاسه ورکړي چې د خپلې بشردوستانه دندې څخه بهرد دښمن په وړاندې زيان رسوونکي عمليات تر سره کړي. (ن/.ن.و.ج)

**۲۶ اصل**. په روغتيايي اخلاقو سنبا ل کس ته د روغتيايي دندې د سرته رسولولپاره سزاورکونه او يا په روغتيايي دندوکې اخته کس اړايستل د روغتيايي اصولوپرخلاف کړنود سرته رسولولپاره منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۲۷ اصل. د هغو مذهبي کارکوونکوڅخه چې يوازې او يوازې مذهبي دندو ته ګمارل شوي دي بايد په ټولوموواردوکې درناوی اوساتنه وشي. په هغه صورت کي به دوی خپله ساتنه د لاسه ورکړي چې د خپلې بشردوستانه دندې څخه بهرد دښمن په وړاندې زيان رسوونکي عمليات تر سره کړي. (ن/.ن.و.ج)

**۲۸ اصل**. د هغو روغتيايي يوکيوڅخه چې يوازې او يوازې د روغتيايي مقاصدو لپاره ګمارل شوي دي بايد په ټولوموواردوکې درناوی اوساتنه وشي. دوی به په هغه صورت کې خپله ساتنه د لاسه ورکړي چې د خپلې بشردوستانه دندې څخه بهرد دښمن په وړاندې زيان رسوونکي عمليات تر سره کړي. (ن/.ن.و.ج)

۲۹ اصل. د هغو لیږدونکو روغتیایي وسایلوڅخه چې یوازې او یوازې د روغتیایي لیږد رالیږد لپاره ګمارل شوي دي باید په ټولوموارد کې درناوی اوساتنه وشي. دوی به په هغه صورت کې خپله ساتنه د لاسه ورکړي چې د خپلې بشردوستانه دندې څخه بهرد دښمن په وړاندې زیان رسوونکي عملیات تر سره کړي. (ن/.ن.و.ج)

۳۰ اصل. دهغو روغتیایي اومذهبي کارکوونکواوموخو پر وړاندې چې د ژنیو د تړونونو سره سمون کې د ژنیو د تړونونو د ځانګړو نښو ښوونه کوي یرغل منع دی. (ن/.ن.و.ج)

## د بشري مرستې کارکوونکي اوموخې

۳۱ اصل. د بشري مرستې د کارکوونکو باید درناوی او ساتنه وشي. (ن/.ن.و.ج)

۳۲ اصل. د هغوموخو چې د بشري مرستې د عملیاتولپاره کارول کیږی باید درناوی او ساتنه وشي. (ن/.ن.و.ج)

## په سوله ساتی ماموریت کې ښکیل کارکوونکي اوموخې

۳۳ اصل. په سوله ساتي ماموریت کې د ښکیلو کارکوونکو اوموخو په وړاندې یرغل تر هغه پورې منع دی چې دوی ته د ملګروملتونودمنشورسره سمون کې د نړیوال بشري قانون پر بنسټ د ملکي خلکواو اهدافو د ساتنې لپاره حق ورکول کیږي (ن/.ن.و.ج)

## خبریالان

۳۴ اصل. د وسله والې جګړې سیمه کې په مسلکي ماموریت کې د ښکیلو ملکي خبریالانو باید ترهغې پورې درناوی اوساتنه وشي چې په جګړه کې یې نیغه برخه نه وی اخیستی. (ن/.ن.و.ج)

## ساتن ځایونه

۳۵ اصل. دهغو ځایونو په وړاندې یرغل منع دی چې د جګړې د اغیزو څخه د ټپیانو، ناروغانو، او نورو ملکي خلکود ساتنې لپاره جوړشوي. (ن/.ن.و.ج)

۳۶ اصل. د یوې داسې سیمې په وړاندې د یرغل لارښوونه منع ده چې د جګړې د خواوو تر منځ د هغو پرنا پوځی کولو جوړجاړی راغلی وي. (ن/.ن.و.ج)

۳۷ اصل. د بې دفاع سیمې په وړاندې یرغل منع دی. (ن/.ن. و.ج)

## کلتوري شتمنې

۳۸ اصل. د جګړې هره خوا باید د کلتوري شتمنی درناوی وکړي:

الف- په وسله والو عملیاتو کې باید ځانګړې پاملرنه وشي چې د مذهبي، هنري، علمي، روزنیزو او خیرښیګنې ته ځانګړوشویوځایونواوتاریخی څلوته د زیان رسولو څخه تر هغې پورې مخنیوی وشي چې پوځي موخې ونه ګرځي.

ب- د خلکود کلتوري میراث ډیره ارزښتناکه شتمني باید تر هغې پورې د یرغل موخه ونه ګرځي چې په ضروري توګه یې د پوځي اړتیاغوښتنه و نه شي. (ن/.ن.و.ج)

۳۹ اصل. د خلکود کلتوري میراث د ډیرې ارزښتناکې شتمنۍ څخه د هغو مقاصدو لپاره ګټه اخیستنه چې په احتمالي توګه هغوی د ویجاړې یا زیان سره مخ کوي تر هغې پورې چې په ضروري توګه یې د پوځي اړتیاغوښتنه و نه شي منع ده. (ن/.ن.و.ج)

۴۰ اصل. د جګړې هره خوا باید د کلتوري شتمنۍ ساتنه وکړي:

الف- د مذهبي، خیریه ، روزنیزو، هنري اوعلمي، تاریخي ځلواو علمي او هنري چارو ته ځانګړو شویوموسساتو هر ډول نیونه، ویجاړی ، اوارادي زیان رسونه منع ده.

ب- د اهمیت لرونکو کلتوري میراثونو په وړاندې هر ډول غلا، لوټ اوتالان، یا په خپله ښه کونه اود پرمختګ سره د دښمنۍ څخه ډک هر عمل تر سره کول منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۴۱ اصل. نیوونکی ځواک باید د سیمې څخه د کلتوري شتمنۍ د نا قانونه لیږدونې څخه ډډه وکړي او نا قانونه لیږدول شوې شتمنۍ باید بیرته د تر ولکې لاندې سیمې واک لرونکو مقاماتو ته راوګرځوی. (ن/.ن.و.ج)

## هغه فابریکې او تاسیسات چې خطرناک ځواکونه لري

۴۲ اصل. د دې لپاره چې د خطرناکو ځواکونو درلودونکې فابریکې او تاسیسات یعنې بندونه، او د هستوي بریښنا د تولید ستیشنونه او هغوی ته نږدې نور تاسیسات تر یرغل لاندې رانشي، ځانګړې پاملرنه باید وشي چې د ملکي خلکو په منځ کې د ویرونکو ځواکونو د خپریدو او د هغوی څخه د لاس ته راغلو نه زغمونکو زیانونو مخنیوی وشي. (ن/.ن.و.ج)

## طبیعي چاپیریال

۴۳ اصل. عام اصول چې په طبیعي چاپیریال کې د جګړو د لاربښوونوپه هکله کارول کیږي:

الف- د طبیعي چاپیریال هیڅ برخه باید تر هغې پورې تر یرغل لاندې رانشي چې هغه پوځي موخه نه وي.

ب- د طبیعي چاپیریال د هرې برخې ویجاړول تر هغې پورې منع دي چې په ضروري توګه یې د پوځي اړتیاغوښتنه و نه شي.

ج- د یوې پوځي موخې په وړاندې دداسې یرغل تر سره کول منع دی چې تمه یې کیږي د چاپیریال د داسې یوه ناځاپي زیان لامل به وګرځي چې د له مخکې نه مخکې څرګندې شوې ښتیني اونیغې پوځي ګټې څخه به تیری وکړي. (ن/.ن.و.ج)

۴۴ اصل. د جګړې میتودونه او وسایل باید د طبیعي چاپیریال دساتنې سره په نیغه اړیکه کې وکارول شي. د پوځي عملیاتو په لاره اچولو سره باید ټول شوني مخکنۍ اقدامات ترسره شي چې د چاپیریال د ناڅاپي زیان څخه مخنیوی اوپه هرحالت کې کمښت رامنځته شي. په چاپیریال باندې د تاکلو پوځي اغیزو د علمی باورنه شتون له کبله د جګړې یوه خوا هم د دغسې مخکنیو اقداماتود سرته نه رسونې لپاره نه بنبي. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

۴۵ اصل. د جګړې د هغو میتودونو او وسایلو کارونه چې په پام کې لري یا یې تمه کیږي چې د طبیعي چاپیریال د پراخو، اوږد مهالو او او نه زغمونکو زیانونو لامل به شي منع دي. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

## د جګړې ځانګړې میتودونه

## د ترحم څخه ډډه

**۴۶ اصل**. د دښمن ویرونه یا د جګړو په لاره اچونه د دې حکم پر بنسټ چې باید هیڅ ډول ترحم ونشي منع دي. (ن/.ن.و.ج)
**۴۷ اصل**. دهغو خلکوپه وړاندې یرغل منع دی چې د جګړې څخه بهرکسانو په توګه پیژندل کیږي.
د جګړی څخه بهر کس:
الف- هغه څوک دی چې د یوې دښمني خوا په واک کې وي.
ب- هغه څوک دی چې د لیونتوب ، بیړی ماتیدو، ټپونو، ناروغی له کبله بیدفاع وي یا
ج- هغه څوک دی چې په ښکاره دغاړې ایښودو نیت بیان کړي پدی شرط چې د هر ډول جګړه ایزې کړني څخه ډډه وکړي او د تیښتې لپاره هڅه ونکړي . (ن/.ن.و.ج)
**۴۸ اصل**. پر هغو کسانو چې د ویرې او خطر په حال کې د پاراشوت په وسیله د الوتکي څخه ځمکي ته راکوزیږي یرغل منع دي. (ن/.ن.و.ج)

## د شتمنیوویجاړول اولوټول

**۴۹ اصل**. دجګړې خواوې ښایي د دښمن اړوند پوځي تجهیزات د غنیمت په توګه ونیسي. (ن.و.ج)
**۵۰ اصل**. د دښمن د شتمنۍ ویجاړول او د هغې نیول تر هغې پورې منع دی چې په ضروري توګه یې د پوځي اړتیا غوښتنه و نه شی. (ن/.ن.و.ج)
**۵۱ اصل**. په تر ولکې لاندې سیمه کې:
الف- د لیږد وړ عامه شتمني چې وکولای شی د پوځي عملیاتو لپاره وکارول شي مصادره کیدای شی.
ب- د نه لیږد وړعامه شتمني باید د هغې قانونی قاعدې پربنسټ اداره اوګټه ترې واخیستل شي چې اصلی شتمني ته زیان ونه رسیږي
ج- د شخصی شتمنۍ باید درناوی وشي او هغه باید مصادره نشي: پرته له هغه ځایه چې د دغې شتمنی ویجاړول اویرغل دپوځی اړتیا د غوښتنې لپاره نه وي. (ن.و.ج)
**۵۲ اصل**. لوټ اوتالان منع دي. (ن/.ن.و.ج)

## قحطی اوبشری مرستوته لاس رسی

**۵۳ اصل**. دملکی خلکود لوږې او تندې څخه د جګړې د میتود په توګه ګټه اخیستنه منع ده. (ن/.ن.و.ج)
**۵۴ اصل**. دملکي خلکود ژوندي پاتې کیدولپاره پر لازمو توکوباندې یرغل، ویجاړول، له منځه وړل، او د کاره ایستل منع دي. (ن/.ن.و.ج)
**۵۵ اصل**. دجګړې خواوې باید د اړوملکي خلکوبشر دوستانه مرستو ته اجازه ورکړي او د هغوی لپاره پرته له خنډونواو چټکې لارې داسې آسانتیا چمتو کړي چې بې پرې ځانګړتیا ولري او پرته له کومې زیان رسوونکې ځانګړتیا څخه د دوی د کنترول د حق سره اداره شي. (ن/.ن.و.ج)
**۵۶ اصل**. دجګړې خواوې باید دبشر دوستانه مرستو د واک لرونکوکارکوونکو د خوځښت آزادي چې د دوی د وظیفوي عملیاتولپاره ضروري ده باوري کړي. یوازې د لازمې پوځي اړتیا په صورت کې به د دوی خوځښتونه په موقتي توګه محدود شي. (ن/.ن.و.ج)

## غولونه

**۵۷ اصل**. جګړه ايزې لارې چارې اودرغلنې تر هغې پورې منع ندي چې د نړيوال بشری قانون څخه تيری ونکړي. ( ن/.ن.و.ج)

**۵۸ اصل**. د اور بند د سپين بيرغ څخه ناوړه ګټه اخيستنه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

**۶۰ اصل**. د ملګروملتونو د نښې او يونيفورم څخه ګټه اخيستنه منع ده پرته لدې چې د سازمان لخوا اجازه ورکړل شي. (ن/.ن.و.ج)

**۶۱ اصل**. د نورو ځانګريو شويو نړيوالونښو څخه ګټه اخيستنه جواز نلري. (ن/.ن.و.ج)

**۶۲ اصل**. د دښمن د بيرغونو يا نښو علامو او يونيفورم څخه ناوړه ګټه اخيستنه جواز نلري. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

**۶۳ اصل**. په جګړه کې د بی پلوه او نورو دولتونو د بيرغونو يا پوځي نښو او يونيفورم څخه ناوړه ګټه اخيستنه جواز نلري. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

**۶۴ اصل**. د ناڅاپي يرغل په موخه د جګړې د تعليق لپاره جوړ جاړي ته رسيدل پدې توګه چې دښمن په هغه باندې باوري وي جواز نلري. (ن/.ن.و.ج)

**۶۵ اصل**. په غدراوخيانت سره د دښمن وژنه، ټپي کونه، او نيونه جواز نلري. (ن/.ن.و.ج)

## د دښمن سره اړيکې

**۶۶ اصل**. قوماندانان کولای شي داړيکې ټينګولود هر ډول وسايلوله لارې د دښمنی څخه ليرې ټړون ته لارومومي داسې ټړون بايد د ښه نيت پر بنسټ وي. (ن/.ن.و.ج)

**۶۷ اصل**. د پارلمان غړي د تيري څخه خوندي دي. (ن/.ن.و.ج)

**۶۸ اصل**. قوماندانان بايد لازم مخکنی اقدامات تر سره کړي تر څو د پارلمان دغړي د تعصب مخنيوی وکړي. (ن/.ن.و.ج)

**۶۹ اصل**. د پارلمان هغه غړي چې د ورکړل شوي امتيازي مقام څخه د نړيوال قانون پر خلاف او سيال ته دزيان رسوونکي کړنې د ترسره کولولپاره ګټه پورته کوي د تيری څخه د خونديتوب حق له لاسه ورکوي. (ن/.ن.و.ج)

## وسلې

## د وسلو څخه د ګټې اخيستنې عام قوانين

**۷۰ اصل**. د جګړه ايزو هغو وسايلو اوميتودونو څخه ګټه اخيستنه چې داسې خاصيت و لری چې د زياتې ټپی کيدنې يا بې ځايه ستونزو لامل وګرځي منع ده. (ن/.ن.و.ج)

**۷۱ اصل**. د هغو وسلو څخه ګټه اخيستنه چې خاصيت يې نا څرګند وي منع ده. (ن/.ن.و.ج)

## زهر

**۷۲ اصل**. د زهرو او زهرجنو وسلو کارونه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

## بیالوژیکي وسلې

**۷۳ اصل**. د بیالوژیکي وسلوکارونه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

## کیمیاوي وسلې

**۷۴ اصل**. د کیمیاوي وسلو کارونه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

**۷۵ اصل**. د بلوا ګرو د قابوکولو د وسیلو څخه د جګړې د میتود په توګه ګټه اخیستنه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

**۷۶ اصل**. د بوټو د ودې د مخنیوي کیمیاوي توکو د کارونې څخه د جګړه ایز میتود په توګه ګټه اخیستنه منع ده په هغه صورت کې چې هغوی:
الف- د داسي ځانګړتیا درلودونکي وي چې د کیمیاوي وسلې په توګه منع شوي وي
ب-- د داسي ځانګړتیا درلودونکي وي چې د بیالوژیکي وسلې په توګه منع شوي وي
ج- سابه چې پوځي موخه نده د موخې په توګه وکاروي
د- د ملکي خلکو ژوند، ټپي کیدل او د هغوی مالونو ته زیان یا داچې د ملکي خلکود ژوندانه ناڅاپي ویجاړی، ټپي کیدنه اود ملکي موخو زیان یا هغوی ته اړوند ترکیب د دې لامل وګرځي چې د مخکې نه مخکې ځرګندې شوې رښتیني اونیغې پوځی ګټې څخه تیری وکړي
ه- طبیعي چاپیریال ته د پراخ، اوږدمهاله، اونه زغمونکي زیان لامل وګرځي. (ن/.ن.و.ج)

## پرسیدونکې مرمۍ

**۷۷ اصل**. د هغو مرمیوکارونه منع ده چې د انسان په بدن کې په آسانۍ سره پرسیږی اوپلنیږي. (ن/.ن.و.ج)

## چاودیدونکې مرمۍ

**۷۸ اصل**. دهغو انسان وژونکو مرمیوکارونه چې په بدن کې چوی منع ده. (ن/.ن.و.ج)

## هغه وسلې چې موخه یې زیان رسونه او ټوټې یې نه موندل کیږي

**۷۹ اصل**. د هغو وسلو کارونه منع ده چې اساسي اغیزه یې دا ده چې انسان د داسي ټوټو په وسیله ټپی کړی چې په بدن کې یې د اکسریز په وسیله د موندلو وړ نه وي. (ن/.ن.و.ج)

## چاودیدونکې لومې

**۸۰ اصل**. دهغو چاودیدونکو لوموکارونه منع ده چې په یوه ډول د هغو شیانو یا کسانو سره چې د نړیوال بشري قانون سره سم د ځانګړې ساتنې وړ وی یا د هغو شیانو سره چې احتمالا د ملکي خلکوپاملرنه ځان ته اړوی تړلې یا یو ځای شوې وي. (ن/.ن.و.ج)

## ځمکني ماینونه

۸۱ اصل.کله چي ځمکني ماینونه کارول کیږي باید ځانګړې پاملرنه وشي تر څو د هغوی په نا مشخصو اغیزو کي لازم کمښت رامنځته شي. (ن/.ن.و.ج)

۸۲ اصل. دجګړې هغه خوا چي د ځمکنیو ماینونوڅخه کار اخلي باید تر هغه بریده پورې چي شوني وي د هغوی کرل اوښخول ثبت کړي. (ن.ن.و.ج) (ن.و.ج)

۸۳ اصل. د روانو جګړو په پای کي د جګړې هغه خوا چي ځمکني ماینونه یي کرلي وي باید هغوی له منځه یوسي اویاپه بله توګه هغوی د ملکي خلکو لپاره بې ضرره کړي او یا د هغوی د له منځه وړلولپاره آسانتیا را منځته کړي. (ن/.ن.و.ج)

## اوراچوونکې وسلې

۸۴ اصل. که اوراچوونکي وسلي کارول کیږي باید ځانګړې پاملرنه وشي تر څو د ملکي کسانو ژوند، ټپي کیدنه، او د شیانو د احتمالي زیان څخه مخنیوی وشي او په هر حالت کي کمښت را منځته شي. (ن/.ن.و.ج)

۸۵ اصل. د اوراچوونکو وسلو کارونه د انسان پروړاندي تر هغې پورې منع ده چي د جګړې څخه بهرکسانود ویستلو لپاره د لږ زیان لرونکې وسلې کارول شوني نه وي.(ن/.ن.و.ج)

## ړندونکې لیزر وسلې

۸۶ اصل.د هغو لیزر وسلو کارونه چي په ځانګړې توګه داسي جوړې شوې دي چي دهغوی یوازینی جګړه ایزه دنده یا دندې د تل ړندوالی اولږ لید لامل وګرځي منع ده. (ن/.ن.و.ج)

## د ملکي خلکواود جګړې څخه بهرکسانو سره چلند

## اسا سي تضمینونه

۸۷ اصل. د ملکي خلکو، د جګړې څخه بهر کسانو او نورو سره باید انساني چلند وشي.(ن/.ن.و.ج)

۸۸ اصل. د نړیوال بشري قانون په کارولو کي د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب یا عقیدې، سیاسي یا بلې نظریې، ملي یا ټولنیزاصل، شتمنی، زیږیدو او نورو حالتونو اویا د بل ورته معیار پر بنسټ د دښمنۍ له مخي توپیر منع دی.(ن/.ن.و.ج)

۸۹ اصل. وژنه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

۹۰ اصل. ربړونه، ظلم او نا انساني چلند او د شخصي حیثیت سپکاوی، په ځانګړې توګه اسکرل منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۹۱ اصل. جسمي سزاورکونه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

۹۲ اصل. د غړو پریکول، روغتیایي یا علمي تجربې او بله هره روغتیایي عملیه چي د اړوند کس د روغتیایي حالت په وسیله نه وي ښودل شوی او د عامو منل شویو روغتیایي معیارونو سره سمون ونلري منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۹۳ اصل. جنسي تیری او د جنسي تیري نور ډولونه منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۹۴ **اصل**. مریتوب او د مریی سوداګري منع ده. (ن/.ن.و.ج)

۹۵ **اصل**.په زور وړیا اوناوړه کار منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۹۶ **اصل**. یرغمل نیونه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

۹۷ **اصل**. د انساني ډال کارونه منع ده. (ن/.ن.و.ج)

۹۸ **اصل**.په زورسره دانسان ورکول منع دی. (ن/.ن.و.ج)

۹۹**اصل**. په خپل سر د آزادۍ څخه بی برخي کول منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۱۰۰ **اصل**. هیڅوک بایدپرته د یوې داسې ښکاره محکمې څخه چي د ټولولازمو قضایي تضمینونوتوان ولري تورن او محکوم نشي. (ن/.ن.و.ج)۰

۱۰۱ **اصل**. هیڅوک باید دیوه داسې عمل یا تیروتنې لپاره چې د هغه د سر ته رسوني په مهال د ملي او نړیوال قانون سره سم جرمي تیری تر سره نه کړي تورن یا محکوم وګڼل شي او نه باید د جرمي تیري د سر ته رسولو د وخت په پرتله ورباندې درنه جریمه ولګول شي. (ن/.ن.و.ج)

۱۰۲ **اصل**. هیڅوک باید پرته له انفرادي جرمي مسوولیت څخه په تیري محکوم نشي. (ن/.ن.و.ج)

۱۰۳ **اصل**. ډله ایزې سزاګاني منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۱۰۴ **اصل**. د خلکو مذهبي دودونواواعتقاداتو ته باید درناوی وشي. (ن/.ن.و.ج)

۱۰۵ **اصل**. د کورنۍ ژوندانه ته باید د شونتیا تر بریده درناوی وشي. (ن/.ن.و.ج)

## جنګیالي اود جګړې بندیان

۱۰۶ **اصل**. په یرغل یا د یرغل څخه مخکي چمتو شوېو پوځي عملیاتوکي ښکیل جنګیالي باید د ځانونواو ملکي خلکو ترمنځ توپیر وکړي که دوی داسې ونکړی نو په هغه صورت کې به د جګړې د بندیانود حق څخه بې برخې وی. (ن.و.ج)

۱۰۷ **اصل**. هغه جنګیالي چې د جاسوسۍ په حالت کې نیول کیږي. د جګړې د حالت د بندیانو حق نلري. دوی باید له مخکنی محاکمې پرته محکوم او ونه ځړول شي. (ن.و.ج)

۱۰۸ **اصل**. په پیسو رانیول شوی جنګیالي څرنګه چې په لومړي مله پروتوکول کې تعریف شوي دي د جنګیالان یا د جګړې د حالت د بندیانود حق درلودونکی ندي. دوی باید له مخکنی محاکمې پرته محکوم او ونه ځړول شي. (ن.و.ج)

## ټپیان، ناروغان اود ماتې بیړۍ سپرلي

۱۰۹ **اصل**. هر کله چې شرایط اجازه ورکړي او په ځانګړې توګه وروسته له نښتې څخه د جګړې هره خوا باید پرته له ځنډه د ټپیانو، ناروغانو اود ماتې شوې بیړۍ د سپرلي د لټون، ټولولو، اوشاته کیدولپاره ټول د توپیرڅخه پرته شوني اقدامات ترسره کړي. (ن/.ن.و.ج)

۱۱۰ **اصل**. ټپیان، ناروغان اود ماتې بیړۍ سپرلي باید د دوی د شرایطو د غوښتنې سره سم په بشپړه عملي توګه اولازم لږ ځنډ وروسته روغتیایي څارنه او پاملرنه تر لاسه کړي. د دوی په منځ کې باید پرته د روغتیایي برخوڅخه د نوروبرخو پر بنسټ ولاړ کوم توپیررامنځته نشي. (ن/.ن.و.ج)

۱۱۱ اصل. د جګړې هره خوا باید ټول هغه شوني اقدامات تر سره کړي چې د ټپیانو، ناروغانو اود ماتي بیړۍ د سپرلي په وړاندې د ناوړه چلند او د هغوی د شخصی شتمنی د لوټ او تالان څخه ساتنه وکړي. (ن/.ن.و.ج)

## مړي

۱۱۲ اصل. هر کله چې شرایط اجازه ورکړي او په ځانګړې توګه وروسته له نښتې څخه د جګړې هره خوا باید پرته له ځنډه د ټپیانو، ناروغانو اود ماتي شوې بیړۍ د سپرلي د لټون، ټولولو، اوشاته کیدولپاره ټول د توپیرڅخه پرته شوني اقدامات ترسره کړي. (ن/.ن.و.ج)

۱۱۳ اصل. دجګړې هره خوا باید ټول شوني اقدامات تر سره کړی تر څو د مړي د بې پټه کولو څخه مخنیوی وشي. د مړی د غړو پریکول منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۱۱۴ اصل. دجګړې خواوې باید زیار وباسي تر څود مړي راستنول د هغه د اړوندې خوا یا وارثینو په غوښتنه آسانه کړي. د هغه شخصي شتمني هم باید دوی ته وسپاري. (ن.و.ج)

۱۱۵ اصل. په مړي پورې اړوندې چارې بایدپه درناوي تر سره شي. او د دوی د قبرونو درناوی اوساتنه دې په ښه توګه وشي. (ن/.ن.و.ج)

۱۱۶ اصل. د جګړې هره خوا باید د مړي د پیژندلو په اړوند ټول لاس ته راغلی معلومات په هغه پورې د اړوندو چارو د سر ته رسولو اود قبرونو د نښه کولو څخه مخکې ثبت کړی. (ن/.ن.و.ج)

## ورک کسان

۱۱۷ اصل. دجګړې هره خوا باید د هغو کسانو په اړوند ټول شوني اقدامات تر سره کړي چې د ورکې خبریې خپور شوي دي او د برخلیک په هکله یې دې د کورنی غړو ته معلومات چمتو کړی. (ن/.ن.و.ج)

## د آزادۍ څخه بې برخې کسان

۱۱۸ اصل. د آزادۍ څخه د بې برخې شوو کسانو لپاره باید خواړه، کالي، اوبه، سرپناه او بشپړه روغتیایي څارنه چمتو شي. (ن/.ن.و.ج)

۱۱۹ اصل. هغه ښځې چې د آزادۍ څخه بې برخې شوې دي باید د نارینه څخه په بیلواوسیدنځایونو کې وساتلې شی پرته له هغوځایونو څخه چې د کورنیو سره د یوکیو په توګه مرسته کیږی او دغه مرستې باید د ښځو د نږدې څارنې لاندې تر سره شي. (ن/.ن.و.ج)

۱۲۰ اصل. هغه ماشومان چې د آزادۍ څخه بې برخې شوې دي باید د ځوانانو څخه په بیلواوسیدنځایونوکې وساتل شي پرته له هغوځایونو څخه چې د کورنیو سره د یوکیو په توګه مرسته کیږی . (ن/.ن.و.ج)

۱۲۱ اصل. د آزادۍ څخه بې برخې شوي کسان باید د جګړه ایزو سیمو څخه لیرې په داسې ودانیو کې وساتل شي چې هلته د خپلې روغتیا اوپاکوالي ساتنه وکړي. (ن/.ن.و.ج)

۱۲۲ اصل. د آزادۍ څخه د بې برخې شوو کسانود شخصي شتمنیو لوټ اوتالان منع دي. (ن/.ن.و.ج)

۱۲۳ اصل. د آزادۍ څخه دبې برخې شوو کسانو شخصي تفصیلات باید ثبت شي. (ن.و.ج)

۱۲۴ اصل.
الف- په نړیوالو وسله والو جګړو کې د آزادئ څخه د بې برخې شوو ټولو کسانو په هکله باید د سره صلیب نړیوالې کمیټې ته منظم لاس رسی ورکړل شي تر څود بند د شرایطو سموالی او ناسموالی او د دغو کسانواوکورنیوتر منځ اړیکې ټینګې کړي
ب - په نا نړیوالو وسله والو جګړو کې د سره صلیب نړیواله کمیټه باید خپل خدمتونه دجګړې خواوو ته دجګړې دلاملونو اړوندو ټولو د آزادئ څخه دبې برخې شوو کسانو دلیدنې لپاره وړاندې کړي تر څو د بند د شرایطو سموالی او ناسموالی څرګند او د دغو کسانواوکورنیوتر منځ اړیکې ټینګې کړي. (ن.و.ج)
۱۲۵ اصل. د آزادئ څخه بې برخې شوو کسانوته باید اجازه ورکړه شي چې د واکمنود پلټنې د تسلسل او اړتیا اړوند معقولو شرایطو په شرط د خپلوکورنیو سره لیکنې اړیکې ولري. (ن/.ن.و.ج)
۱۲۶ اصل. ملکي بندیانو او د نا نړیوالي وسله والي جګړې اړوند د آزادئ څخه بې برخې شوو کسانوته باید اجازه ورکړه شي تر څود شونتیا تر بریده لیدونکي او په ځانګړی توګه نږدې خپلوان د لیدو لپاره ومني. (ن/.ن.و.ج)
۱۲۷ اصل. د آزادي څخه د بې برخې شوو کسانود شخصي محکمواومذهبي دودونو باید درناوی وشي. (ن/.ن.و.ج)
۱۲۸ اصل.
الف- دجګړې بندیان باید پرېښودل شي او د فعالو جګړود ریدو وروسته دې بې له ځنډه خپل هیواد ته ولیږدول شي. (ن.و.ج)
ب- ملکي بندیان باید د دې سره سم چې د بند لپاره یې نورنو کوم لامل موجود نه وي او بالاخره که شونې وي د فعالو جګړود ریدوسره سم آزاد شي. (ن.و.ج)
ج- د نا نړیوالې وسله والې جګړې اړوند د آزادئ څخه بې برخې شوی کسان باید د آزادئ څخه دبې برخې کیدودلاملونو د نشتوالي سره سم پرېښودل شي. (ن.ن.و.ج)
په هغه صورت کې چې د اړوندو کسانو په وړاندې جرمي اقدامات حواله او یا قانوني وضع شوې محاکمه په مخ بیول کیږی دوی به د آزادئ څخه بې برخې کیدنې ته دوام ورکړی.

## بې ځایه کیدل او بې ځایه شوي کسان

۱۲۹ اصل.
الف- د نړیوالې وسله والې جګړې خواوې باید د خپلې ولکې لاندې سیمې څخه ملکي خلک په ډله ایزه یا د یوې برخې په توګه تر هغې پورې د وطن څخه جلا یا په زوره ونه لیږدوي چې دښکیلو ملکي خلکوامنیت یا نورپوځی لاملونه یې غوښتنه ونکړي. (ن.و.ج)
ب- د نا نړیوالې وسله والې جګړې خواوې بایدد جګړې اړوند لاملونو له کبله په ډله ایزه یا د یوې برخې په توګه د ملکي خلکود بې ځایه کیدوحکم تر هغې پورې ورنکړی چې د د ښکیلو ملکي خلکوامنیت یا نورپوځی لاملونه یې غوښتنه ونکړي. (ن.ن.و.ج)
۱۳۰ اصل. دولتونه باید د خپلې ولکې لاندې سیمې ته د خپلو ملکي خلکو یوه برخه جلا وطنې یا لیږدونې ته اړه نکړي. (ن.و.ج)
۱۳۱ اصل. د بې ځایه کیدوپرمهال باید ټول شوني اقدامات تر سره شي چې اړوند ملکی خلک د پام وړشرایطو لاندې پناهګاه، پاکوالی، روغتیا، خوندیتوب، او خواړه تر لاسه کړي او د یوې کورنی غړي یو د بل څخه بیل نشی. (ن/.ن.و.ج)

**۱۳۲ اصل**. بې ځایه شوی کسان د بې ځایه کیدو د لاملونو د له منځه تللوسره سم خپلوکورونواوعادی اوسیدنځایونو ته د خوندي خپلې خوښې ستنیدنې حق لري. (ن/.ن.و.ج)
**۱۳۳ اصل**. د بې ځایه شویو کسانود شتمنیود حقونو باید درناوی وشي. (ن/.ن.و.ج)

## د ځانګړې ساتنې غوښتونکی نور کسان

**۱۳۴ اصل**. د وسله والې جګړې څخه داغیزمنو ښځو د ځانګړې ساتنې، روغتیا، او د اړتیا وړ مرستو باید درناوی وشي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۳۵ اصل**. د وسله والې جګړې څخه اغیزمن شوي ماشومان دځانګړې ساتنې او درناوي وړ دي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۳۶ اصل**. ماشومان باید په وسله والو ځواکونو او ډلو کې و نه ګمارل شي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۳۷ اصل**. ماشومانو ته باید اجازه ورنکړه شي چې په جګړو کې برخه واخلي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۳۸ اصل**. بوډاګان، کمزوري، د جګړې څخه اغیزمن شوي معلولین دځانګړې ساتنې او درناوی وړ دي. (ن/.ن.و.ج)

## پلی کیدنه

## د نړیوال بشری قانون درناوی

**۱۳۹ اصل**. دجګړې هره خوا باید د خپلو وسله والو ځواکونو او نورو خلکو یا په حقیقت کې د هغې خوا دلارښوونو، یا امر او کنترول لاندې کار کوونکو ډلو په وسیله د نړیوال بشري قانون درناوی او د درناوی ضمانت وکړي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۴۰ اصل**. نړیوال بشري قانون ته د درناوي دنده او د درناوي ضمانت په دوه اړخیزتوب پورې اړه نلري. (ن/.ن.و.ج)
**۱۴۱ اصل**. هر دولت باید قانوني سلاکاران چمتو کړي چې د اړتیا په صورت کې د پوځي قوماندانانو سره په مناسبه کچه د نړیوال بشري قانون د پلي کولو لپاره سلا وکړي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۴۲ اصل**. دولتونه او دجګړې خوا وې باید خپلو وسله والو ځواکونو ته د نړیوال بشري قانون لارښوود چمتو کړي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۴۳ اصل**. دولتونه باید ملکی خلک د نړیوال بشري قانون تدریس ته وهڅوي. (ن/.ن.و.ج)

## د نړیوال بشری قانون دودول

**۱۴۴ اصل**. دولتونه باید د وسله والې جګړې خوا وې د نړیوال بشري قانون څخه د تیري لپاره و نه هڅوي دوی باید تر هغه بریده چې شونې ده خپل واک وکاروي چې د نړیوال بشري قانون څخه د تیري مخنیوی وکړي. (ن/.ن.و.ج)
**۱۴۵ اصل**. په هغو ځایونو کې چې د نړیوال بشري قانون لخوا بندیز ندی لګیدلی دجګړې د زیانونو بدله په دقیقو شرایطو پورې اړه لري. (ن.و.ج)

۱۴۶ اصل. د ژنیو د تړون تر ساتنې لاندې دښمنو کسانو څخه غچ اخیستل منع دي. (ن.و.ج)

۱۴۷ اصل. د ژنیو د تړون او د هاګ د کلتوري شتمنی د ساتنې د تړون تر ساتنې لاندې موخوڅخه غچ اخیستنه منع ده. (ن.و.ج)

۱۴۸ اصل. د نا نړیوالو وسله والو جګړو خوا وې یو د بل په وړاندې د غچ اخیستنی حق نلري. د هغو خلکوپه وړاندې دنور مخالفو اقداماتوسر ته رسونه منع ده چې په جګړو کې یې په نیغه برخه نده اخیستې یا یې جګړه درولې ده. (ن.ن.و.ج)

## ذمه واری او بدله

۱۴۹ اصل. یو دولت د نړیوال بشري قانون د څانګړنې له کبله د هغه په وړاندې د تیریو لپاره ګرم دي

الف- هغه تیري چې د وسله والو ځواکونو په ګډون د هغه د ارګانونو لخواترسره کیږي

ب- هغه تیري چې دهغو کسانواو هستیو لخواترسره کیږي چې دولت یې د حکومتي واک د غړود تمرین لپاره توانمن کوي

ج- هغه تیري چې د هغوکسانویا ډلو لخوا ترسره کیږي چې په حقیقت کې د دولت دلارښوونو، یا امر او کنترول لاندې کار کوي، او

د- هغه تیري چې د شخصي کسانویا ډلو لخواترسره کیږي اوهغه یې د خپلې اداري په توګه پیژني او مني. (ن/.ن.و.ج)

۱۵۰ اصل. د نړیوال بشري قانون په وړاندې د تیریولپاره ګرم یوه دولت ته لازمه ده چې د پیښ شوي زیان اوتېپی کیدنې بدله ورکړي. (ن/.ن.و.ج)

## ځانی مسوولیت یا ذمه واری

۱۵۱ اصل. د جرمي اړخه هغه کسان د جګړه ایزو جرمونو لپاره ګرم دي چې سرته یې رسولي دي. (ن/.ن.و.ج)

۱۵۲ اصل. قوماندانان او نور مشران په جرمي توګه د هغو جګړه ایزو جرمونو لپاره ګرم دی چې د دوی د حکمونو وروسته ترسره شویدي. (ن/.ن.و.ج)

۱۵۳ اصل. قوماندانان او نور مشران په جرمي توګه دهغو جګړه ایزو جرمونو لپاره ګرم دي چې د دوی د ترلاس لاندې کسانو لخوا سر ته رسیدلي دي. په هغه صورت کې چې دوی پوهیدل یا د پوهیدو لپاره یې دلیل درلود چې د دوی تر لاس لاندې کسان نږدې وو چې داسې جرمونو سرته ورسوي یا یې سرته رسول او دوی د خپل واک په دوران کې ټول لازم او معقول ګامونه ندي اوچت کړي تر څو د دوی د دغه کار مخنیوی وکړي یا په هغه صورت کې چې داسې جرمونه سر ته رسیدلی وو ګرمو کسانو ته سزا ورکړي. (ن/.ن.و.ج)

۱۵۴ اصل. د هر جګړه مار دنده ده چې د څرګند او نا قانونه حکم څخه سر غړونه وکړي. (ن/.ن.و.ج)

۱۵۵ اصل. د لوړ مقام د فرمان څخه اطاعت د ترلاس لاندې کسانو په جرمی ګرمتیا کې کمښت نه رامنځته کوي. په هغه صورت کې چې تر لاس لاندې کس پوه وي چې ورکړې شوی حکم ناقانونه و یا د ورکړ شوي حکم د ناقانونه ځانګړنې څخه په ښکاره پوه شوی وي. (ن/.ن.و.ج)

## جګړه ایز جنایات

**۱۵۶ اصل**. د نړیوال بشري قانون څخه سختي اوکلکي تیروتني جګړه ایز جنایات جوړوي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۵۷ اصل**. دولتونه حق لري چي په خپلو ملي محکمو کي د جګړه ایزو جنایاتو څیړنه نړیوال عدالت ته وسپاري. (ن/.ن.و.ج)

**۱۵۸ اصل**. دولتونه باید هغه جګړه ایز جنایات چي ویل کیږي د دوی د خلکواو وسله والو ځواکونولخوا او یا د دوی په سیمه کي تر سره شوي دي وڅیړي او که یي وړتیا ولري شکمن کسان دي هم وڅاری. دوی باید هغه نور جګړه ایز جنایات هم وڅیړی چي پر هغوی قضاوت روان وی او که یي وړتیا ولري شکمن کسان دي وڅاري. (ن/.ن.و.ج)

**۱۵۹ اصل**. د جګړي په پای کي واکمن مقامات باید زیار وباسي تر څوپرته له هغو شکمنوکسانوڅخه چي په جګړه ایزو جنایاتو تورن او محاکمه شوي دي نورو هغو کسانو ته چي په نا نړیواله جګړه کي یي برخه اخیستي وه یا هغو کسانو ته چي د وسله والي جګړي اړوندو لاملونو له کبله د آزادئ څخه بي برخي شوي پراخه شوني بښنه اعلان کړي. (ن.ن.و.ج)

**۱۶۰ اصل**. د جنګی جنایاتولپاره باید د محدودیتونومقررات و نه کارول شي. (ن/.ن.و.ج)

**۱۶۱ اصل**. دولتونه تر هغه بریده چي شوني وي باید هر ډول زیار وباسي تر څو یو او بل ته د جنګی جنایاتو دڅیړني او د شکمنوکسانود څارلو لپاره آسانتیاوي رامنځته کړي. (ن/.ن.و.ج)